# د محمدزو دوره

۱۲۱۶ هـ ــ ۱۳۵۷ هـ

محمد زي د کندهار د درانو د بارکزي قوم يوه څانګه ده ، چي محمد نيکه د دې کورنۍ موسس دئ. ده د ۱۰۰۰ هـ ق يا ۱۵۹۱ م په شاو خوا کي په ارغسان کي چي د کندهار ښار په جنوب شرقي خوا کي پروت دئ ژوند کاوه. محمد نيکه د ملک سدو هم وخته وو کوم چي د ابداليانو د قبيلو حکمران وو. محمد نيکه تر مرګ وروسته په هغه کلي کي ښخ سو.

د دې کورنۍ يو غړی(حاجي جمال) د شير سرخ بابا په جرګه کي کله چي د پاچا د انتخابولو لپاره جوړه سوې وه ګډون درلود. حاجي جمال د احمد شاه بابا تر پاچا کېدو وروسته د هغه د دربار مشاور سو. حاجي جمال نيکه تر مرګ وروسته د کندهار د ذاکر په کلي کي ښخ سو. تر ده وروسته د ده زوی سردار پاينده محمد خان له ارغسان څخه تر هلمند پوري د بارکزيو د قبيلو د ريس په توګه شهرت و موند. پاينده محمد خان ته د تېمور شاه په دوره کي په لوړه سترګه ور ته و کتل سوه او تيمور شاه ته ئې لوړ خدمتونه و کړل.

د محمد زو د کورنۍ لومړی سړی وزير فتح خان وو چي په ۱۲۱۶ هـ ق کال کي د سدوزي شاه محمود د پاچهۍ په وخت کي ئې د وزير په توګه دنده پيل کړه. تر ده وروسته د دې کورنۍ لومړی پاچا امير دوست محمد خان دئ.

Abdul Ali Rasulzada
alirasulzada@hotmail.com
0046709384755

# د امیر دوست محمد خان لومړۍ ځل پاچاهي

(۱۲۵۴ـ ۱۲۵۵) هـ ق (۱۸۳۸ ـ ۱۸۳۹) م



امیر دوست محمد خان

کله چي د شاه محمود سدوزي زوی (کامران) وزیر فتح خان ړوند کړ په دغه کار د وزیر فتح خان غښتلي وروڼه د شاه محمود په مقابل کي و درېدل. په نتیجه کي ئې د سدوزو د کورنۍ کمبله ور ټوله کړه. خو پخپله ئې پر پاچاهي باندي تر منځ کش مکش جوړ سو څو په پای کي سردار دوست محمد خان د کابل په عیدګاه کي د خپلي پاچاهۍ اعلان و کړ او د ده په نامه خطبه و ویل سوه ۱۲۵۴هـ ۱۸۳۸م. د امیر دوست محمد خان پدغه دوره کي د ده ورڼو د افغانستان زیات ولایتونه تر خپلو منځو و وېشل. هر یو په خپله منطقه کي د ټول قدرت څښتن وو. کوم مالیات چي به ئې راټولول پخپله به ئې په کار اچول او مرکزي حکومت ته به ئې څه نه ورکول.



رنجت سینگ

د هیواد حال ورځ په ورځ خرابېدی. پدې وخت کي رنجت سنگ ټول پنجاب تر پېښور پوري نیولی وو. په پېښور کي هم سردار سلطان محمد خان د امیر دوست محمد خان ورور ډېر کمزوری وو. دا ښېره وه چي رنجت سنگ پر خیبر حمله وکړي. امیر دوست محمد خان له انګرېزانو څخه د پېښور د بیا اخیستلو لپاره مرسته و غوښته. امیر په خپله د ۶۰ زرو عسکرو سره پېښور ته ولاړ هلته ئې ماته و کړه او بیرته کابل ته راغی. امیر دوست محمد خان د رنجت سنگ د ماتولو لپاره د انګرېز، ایران او روس له دولتو څخه مرسته و غوښته.

پدغه وخت کي انګرېزانو خپل لومړنی سیاسي او اقتصادي هیئت کابل ته را واستاوه. د روسیې یو هیئت هم د ویکوویچ په نامه کابل ته راغلی وو. د روسیې نماینده د کابل دربار او د کندهار حکمرانان د انګرېزانو پر ضد تحریکول. امیر دوست محمد خان د انګرېز د نمایده سره خبري و کړلې. په خبرو کي ئې د هغه سره و منل چي که انګرېزان امیر ته ۲۰۰۰ توپکان او د سند د رود لوېدیزي مځکي ور کړي نو تل به د انګرېزانو همکار او دوست وي.

انګرېزانو د هند د ساتني او د روس د احتمالي مخته را تګ د مخنیوي لپاره شاه شجاع چي د افغانستان څخه تښتېدلی وو او په هند کي اوسېدی په نظر کي نیولی وو. ځکه نو انګرېزانو د اکتوبر پر لومړۍ نېټه په ۱۸۳۸م کال کي د افغان او انګرېز لومړۍ جګړه پیل کړه او د

امیر دوست محمد خان د له منځه وړلو ته ئې ملا و تړله .

شاه شجاع لومړی د اپریل April په میاشت کي په کندهار کي او د ۱۸۳۹ م کال په اګست کي په کابل کي تش په نامه د انګرېزانو په لاس پاچا سو او امیر دوست محمد خان له زامنو سره بخارا ته ولاړ .

پوښتني :

۱ ـ محمدزي څوک دي ؟
۲ ـ د محمدزو لومړی سړی څوک وو چي قدرت ته و رسېد ؟
۳ ـ ولي د وزیر فتح خان ورونه د محمود په مخ کي و درېدل ؟
۴ ـ امیر دوست محمد خان چي پاچا سو د هیواد حالت څرنګه سو ؟
۵ ـ د امیر په دوره کي د انګرېګ او روسیې د هیئتونو کړه څه وه؟
۶ ـ د افغان او انګرېز لومړی جګړه ولي او څرنګه پېښه سوه ؟

# د شاه شجاع دوهم ځل پاچاهي

(۱۲۵۵ ـ ۱۲۵۸) هـ ق (۱۸۳۹ ـ ۱۸۴۲) م


شاه شجاع

امیر دوست محمد خان د رنجت سنګ د ماتولو لپاره د انګرېز ، ایران او روس له دولتونو څخه مرسته و غوښته . هغو مرسته ورسره و نه کړه ځکه چي انګرېزانو د هند د ساتني او د روس د احتمالي مخته را تګ د مخنیوي لپاره شاه شجاع په نظر کي نیولی وو . شاه شجاع چي له افغانستان څخه تښتېدلی وو په هند کي اوسېدی . هغه وو چي انګرېزانو د اکتوبر پر لومړۍ نېټه په ۱۸۳۸ م کال کي د امیر دوست محمد خان د له منځه وړلو ته ملا و تړله .

د دي کار په نتیجه کي افغانان ډېر نا راضه سول ، د شاه شجاع او انګرېزانو په مقابل کي ئې جګړه پیل کړه .

## د افغان او انګرېز لومړۍ جګړه :



برنیس

د انګرېز عسکر له شاه شجاع سره یو ځای افغانستان ته را ننوتل. افغانان چي پدې و پوهېدل چي افغانستان انګرېزانو نیولی دئ نو ملي پاڅون ئي و کړ او په غزا ئي پیل وکړ. په کابل کي د غازي عبدالله خان اڅکزي اونایب امین الله خان لوګري په مشرۍ د انګرېزانو په مخالفت جهاد پیل سو. د دوی په قومنده د ۱۸۴۱ م کال د نوومبر په دوهمه نېټه عمومي پاڅون وسو. افغانان په تش لاس پر انګرېزانو ورغلل، پدغه اوله ورځ ئي د انګرېز نماینده برنس و واژه. د ډیسمبر پر ۲۳ نېټه ئي مکناټن و واژه.



مکناټن

شاه شجاع چي له خپل هیواد سره ئي خیانت کړی وو د ۱۸۴۳ م کال د اپریل پر ۳ نېټه و وژل سو. خرنګه چي د دغه کال په ژمي کي د انګرېزانو عسکر د کابل له لاري جلال اباد ته تلل، ټول د غازیانو له خوا و وژل سوه.

انګرېزانو پدي جنګ کي ډېر تاوانونه و لیدل، په زرو عسکر ئي و و ژل سول او ۲۱۰ میلیونه هندۍ روپۍ ئي مصرف سوې. په دغه جنګ کي چي د انګرېزانو



وزیر محمد اکبر خان

څوک افغانستان ته راغلي ول ببله یوه نفر ډاکتر بریډن څخه نور څوک ژوندي پاته نه سول. د شاه شجاه تر وژلو او د انګرېزانو تر ماتولو وروسته خلکو امیر دوست محمد خان راووست او د خپل مجاهد زوی وزیر محمد اکبر خان په مرسته ئي د کابل پر تخت کښېناوه.



ډاکټر بریډن د تېښتي په حال کي

# د امیر دوست محمد خان دوهم ځل پاچاهي

( ۱۸۴۳ ـ ۱۸۶۳ ) م



دوست محمد خان

که څه هم هیواد د افغاني مجاهدینو په وینو له انګرېزانو څخه خلاصون و موند او د هغو د لاس له برکته امیر دوست محمد خان بیا د افغانستان پاچا سو. مګر امیر بیا هم افغان مجاهدین چي نومونه ئي لاندي لیکل سوي دي د باور وړ و نه بلل. څوک ئي بندیان، څوک ئي مړه او څوک ئي له هیواده فرار کړل او هیواد ئې د خپلو زامنو تر منځ و وېشی.

## افغاني مجاهدین:

- نایب امین الله خان لوګری
- سردار سلطان احمد خان سرکار
- محمد شاه خان بابکر خیل
- نواب محمد زمان خان او د ده زوی شجاع الدوله خان
- محمد عثمان خان
- نواب جبار خان
- مسجدي خان او یو شمېر نور

د امیر دوست محمد خان دي کار نه یوائي افغاني مجاهدین نا راضه کړل بلکي د امیر ټول ورونه چي شمېر ئي ۲۰ وو هم له ده څخه ناراضه سول او امیر لکه تیمور شاه د کورنیو مخالفتونو سره مخامخ سو.

ایران د افغانستان د مرکزي دولت له کمزوری څخه استفاده و کړه، پر هرات ئي حمله و کړه او هرات ئي و نیوی. له یوي خوا امیر د هغه تړون له مخي چي له انګرېزانو سره ئي کړی وو له انګرېزانو څخه مرسته و غوښته او له بلي خوا افغان غیرتمن اولس دا و نه منله چي د هیواد یوه برخه دي ئي د بېګانوو تر لاس لاندي وي نو ئي پاڅون و کړ. هرات ئي د ایران د قاجاري دولت له لاسه خلاص کړ ( ۲۷ د جولای ۱۸۵۷ م ). امیر دوست محمد خان هم پسله څه مودي څخه هلته مړ سو او د هرات په ګازرګاه کي د خواجه عبدالله انصاري په هدیره کي خاورو ته و سپارل سو جون ( ۱۸۶۳ م ).

امیر د خپل لومړي ځل پاچاهۍ په دوره کي هیواد د خپلو ورونو تر منځ وېشلی وو. هغوی په ازادي سره حکومت کاوه مالیې ئې ټولولې او په خپله ئې اخیستلې او څه چي ئې زړه غوښتل هغه ئې په هیواد کي کول.

امیر دوست محمد خان په دوهم ځل پاچاهي کي هیواد د خپلو زامنو تر منځ و وېشی. یوائنی توپیر ئې داوو چي د ده زامن د مرکزي حکومت سره تړلي ول او د خپلو سیمو عایدات ئې د مرکز سره شریکول او د مرکز بې اجازې ئې کارونه نه کول.

د امیر دوست محمد خان څخه ۵۲ اولادونه پاته سول چي د هغو له جملې څخه ئې ۲۹ زامن ول. د امیر دوست محمد خان تر مرګ وروسته د ده زوی امیر شیر علي خان پاچا سو.

**پوښتني:**

۱ـ امیر دوست محمد خان د چا په مرسته پاچا سو؟
۲ـ امیر دوست محمد خان دا ځل له افغان مجاهدینو سره څه و کړه او هیواد واکي ئې دا ځل چا ته ور و ویشلې؟
۳ـ د امیر سره ولي مجاهدین او د امیر وروڼه مخالف سول؟
۴ـ کله چي ایران پر هرات حمله و کړه څرنګه د ایران قاجاري دولت ماته و کړه؟
۵ـ د امیر دوست محمد خان د لومړي او دوهم ځل پاچاهۍ تر منځ څه توپیر وو؟

# د امیر شیر علي خان لومړۍ ځل پاچاهي

(۱۲۴۲ ـ ۱۲۴۵) هـ ل (۱۸۶۳ ـ ۱۸۶۶) م



امیر شیر علي خان

امیر دوست محمد خان چي مړ سو ، تر مرګ وروسته ئي د زامنو ترمنځ د پاچاهۍ پر سر مخالفتونه پیدا سول. هغه وو چي د ده زوی سردار شیر علي خان په هرات کي د خپل امـارت اعلان و کړ ۱۲۴۲ هـ ل ۱۸۶۳ م.

د ده سره په هرات کي سید جمال الدین افغان یو ځای وو. سید جمال الدین امیر شیرعلي خان ته د مدني او داخلي اصلاحاتو پروګرام وړاندي کړ. مګر امیر چي د خپلو وروڼو د سختو مخالفتونو سره مخامخ وو د سید جمال الدین دغه پروګرام ئي دا ځلي عملي نه کړای سوای.



سید جمال الدین

په ۱۲۸۰ هـ ق ۱۸۶۳ م کال کي د مهمندو قومونه انګرېزانو ته پورته سول. امیر شیرعلي خان خپل زوی محمد علي خان د محمد رفیق خان لودین چي د امیر وزیر وو په ملګرتیا مهمندو ته ور ولېږی چي له هغو سره خپل اړیکي و ساتي. مګر انګرېزانو د امیر شیرعلي خان پاچاهي په رسمیت و نه پېژنده او د ده ورور محمد اعظم خان ئې په پېښور کي د ده پر ضد و ساتی.



امیر شیرعلي خان ته له یوې خوا روسی خرس او له بلي خوا انګریزی زمري ولاړ ول. پدغه وخت کي که انګرېز د هند له خوا پر امیر فشار راوړی نو روسیې د شمال له خوا پر ده فشار راوړی. هغه وو چي په دغه وخت کي سردار عبدالرحمن خان چي د روسانو سره په بخارا کي وو ، پر کابل حمله و کـړه او کابـل یې و نیوئ. او د امیر شیر علي خان مشر ورور امیر محمد افضل خان ئې چي د عبدالرحمن خان پلار وو پر تخت کښېناوه (۱۸۶۶ـ ۱۸۶۷) م.



محمد افضل خان

امیر محمد افضل خان د کورنیو جنګو په نتیجه کي مړ سو او پر ځای ئې د ده ورور امیر محمد اعظم خان پاچا سو ۱۲۸۴ هـ ق (۱۸۶۷ ـ ۱۸۶۸) م. د ده وراره سردار عبدالرحمن خان تر آمو پوري ټولي مځکي و نیولي او په کابل پوري ئي و تړلې.

امیر شیر علي خان که کابل له لاسه ورکړ خو هرات او کندهار ئي په لاس کي ول او له هغه ځایه ئي حرکت را و کړ او کابل ئي بیرته و نیوی ۱۸۶۸م.

امیر محمد اعظم خان او عبد الرحمن خان دواړه ایران ته و غورځېدل . او امیر شیرعلي خان د دوهم ځل لپاره پاچا سو .


محمد اعظم خان

**پوښتنې :**

۱ ـ امیر شیر علي خان څرنګه پاچا سو ؟
۲ ـ امیر ولي و نه کړای سوه چي د سید جمال الدین پروګرام عملي کي؟
۳ ـ ولي انګریزانو د امیر خان پاچاهي په رسمیت و نه منله ؟
۴ ـ افضل خان او اعظم خان څرنګه پاچاهان سول او څرنګه له منځه ولاړل ؟

## د امیر شیرعلي خان دوهم ځل پاچاهي

(۱۲۴۷ ـ ۱۲۵۸) هـ ل (۱۸۶۸ ـ ۱۸۷۹) م


امیر شیر علي خان

امیر شیر علي خان چي په لومړي ځل پاچاهي کي چي کابل له لاسه ورکړ خو هرات او کندهار ئي په لاس کي ول او له هغه ځایه ئي حرکت را و کړ ، کابل ئي بیرته و نیوی (۱۸۶۸ م) . امیر محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان دواړه ایران ته و غورځېدل امیر شیرعلي خان د دوهم ځل لپاره پاچا سو .

امیر شیر علي خان چي دا ځل پاچا سو . دا ځل ئي د سید جمال الدین افغان د اصلاحاتو پروګرام عملي کړ چي هغه په لاندي ډول وو :

- عصري ښوونځي ئي جوړ کړل
- د شمس النهار اخبار ئي را و ایست
- په کابل کي ئي یوه چاپخانه را و ایسته
- کتابونه ئي چاپ کړل
- کابینه ئي جوړه کړه

- لویه جرګه ئې جوړه کړه
- نور اصلاحات ئې را وستل

له دغه وخته وو چې په افغانستان کې د رسمي ښوونې او روزنې ښبنته کښېښوده سوه.

په ۱۸۶۸ م کال کې د امیر شیرعلي خان دولت انګرېزانو په رسمیت و پېژندی.

امیر شیرعلي خان په دې ځل پاچاهي کې و کولای سوه چې یوه کابینه جوړه کړي چې د غړو نومونه ئې دا دي:

سید نور محمد شاه کندهاری ئې خپل صدر اعظم و ټاکی. د هغې کابینې وزیران عبارت وه له:


د امیر شیرعلي خان کابینه

- عصمت الله خان د کورنیو چارو وزیر
- ارسلا خان د باندنیو چارو وزیر
- حبیب الله خان وردک د مالي چارو وزیر
- حسین علي خان سپاه سالار
- احمد علي خان د خزانو وزیر
- محمد حسن خان د دربار سر منشي

په دغه کابینه کې د امیر د کورنۍ له غړو څخه څوک نه ول، ټول وزیران له نورو قومونو څخه ول.

امیر شیرعلي خان یو ډېر منظم لښکر جوړ کړ، که څه هم د هیواد په درد ئې و نه خوړل، خو بیا هم د دې دورې یو لوی کار وو چې په دې لاندې ځایو کې ئې ځای پر ځای کړی وو لکه:

- کابل
- جلال اباد
- شیر اباد
- کندهار
- کورم
- هرات
- میمنه
- بلخ

د ټولو عسکرو شمېر ئې په ۱۸۷۲ م کال کي ۵۱۹۹۰ تنو ته رسېدی. د اسلحې شمېر ئې ۴۰۸۲۵ افغاني او انګريزي توپکان، ۳۲۹ افغاني او انګريزي توپونه‌ول. د انګرېزي هند دولت امير شير علي خان ته د ۱۸۷۷ م کال تر مارچ پوري ۲۹۰۰۰ توپکان ور کړي ول.

امير شير علي خان له تزاري روسيې سره هم د هيواد د شمالي سرحدونو خبره معلومه کړه او له ايران سره ئې د هلمند د رود د اوبو وېش و کړ.

په دغه وخت کي روسيې هم پر خيوه باندي حمله و کړه او هغه مځکه ئې و نيوه او د کابل دربار ته ئې يو سفير را و لېږی. د روسيې د سفير را تګ کابل ته انګرېزان وارخطا کړل هغه وو چي د افغان او انګرېز دوهم جنګ پيل سو.

## د افغان او انګرېز دوهمه جګړه:



محمد يعقوب خان

د ۱۸۷۸ م کال د نوويمبر په مياشت کي انګرېزان د بولان، تورخم او کورم له لاري له درنې توپخانې او ۳۵۰۰۰ عسکرو سره را مخ ته سول. امير شيرعلي خان مزار ته حرکت وکړ څو د روسانو څخه مرسته و غواړي. روسانو مرسته ور سره و نه کړه او امير په مزار کي مړ سو.

د امير شير علي خان تر مرګ وروسته د کابل حالت ډېر خراب وو او انګرېزان مخته راتلل. څو په‌پای کي سردارانو د امير شير علي خان زوی سردار محمد يعقوب خان پسله ۸ کالو بند څخه له بنديخانې څخه را و ايست او پاچا ئې کړ (د ۱۸۷۹ م کال د مارچ څخه تر اکتوبر پوري).

امير محمد يعقوب خان چي يو بې تجربې سړی وو؛ انګرېزانو و نيوی او ګندمک ته چي د کابل او جلال اباد تر منځ يو ځای دئ بوت. هلته ئې د افغانستان په تاريخ کي خرابترينه معاهده په امضا کړه. پدې معاهده کي افغانستان ډېري نوري مځکي له لاسه ورکړلې (جمادي الثاني ۱۲۹۶ هـ ق ۲۶ مې ۱۸۷۹ م). دغه معاهده د ګندمک د معاهدې په نامه يادېږي.

د ګندمک د معاهدې له مخي افغانستان پښين، کورم او خيبر له لاسه ورکړل او هم د دې قرارداد له مخي د انګرېز نماينده په کابل کي ځای پر ځای سو.

دغه کار د افغان ملت د منلو وړ نه وو ځکه نو مجاهدينو په مېړانه د انګرېز سره جنګ پيل



کړ. د انګرېز نماینده (کیوناري) ئې له ټولو ملګرو سره د کابل په بالا حصار کي مړ کړ. له بلي خوا د کندهار په میوند کي غازي ایوب خان د امیر شیر علي خان زوی او پښتني پېغلي ملالۍ د انګرېز و لښکر ته سخته ماته ورکړه ۲۷ د جولای ۱۸۸۰ م.

انګرېزانو چي د دې وار بیا ماته و خوړه او و ئې نه سوای کولای چي په افغانستان کي



محمد ایوب خان



میرمن ملاله

ځان ټینګ کړي نو ئې سردار عبدالرحمن د سردار محمد افضل خان زوی له تاشکند څخه را وغوښت او په کابل کي ئې پر تخت کښېناوه ۲۷ د جولای ۱۸۸۰ م.

تـــمرین:

۱ـ امیر شیرعلي خان په دوهم ځل پاچاهي کي کوم مهم کارونه و کړل؟
۲ـ د انګرېزانو او افغانانو تر منځ دوهم ځل جګړه ولي منځ ته راغله؟
۳ـ امیر له تزاري روسیې سره څرنګه روابط درلودل او بیا روسیې څه و کړه؟

۴ـ د افغان او انګرېز د دوهمي جګړې د پېښېدو سبب څه وو؟
۵ـ د افغان او انګرېز په دوهمه جګړه کي کوم مهم کار و سو چي د افغانستان په تاوان وو او هغه څشي وو؟
۶ـ د افغان او انګرېز دوهمه جګړه د چا په ګټه تمامه سوه؟
۷ـ د امیر شیر علي خان دوهم ځل پاچاهي څرنګه پای ته و رسېده؟

# د امير عبدالرحمن خان پاچاهي

(۱۲۵۹ـ ۱۲۸۰) هـ ل (۱۸۸۰م ـ ۱۹۰۱) م

کله چي انګرېزانو امير عبدالرحمن د سردار محمد افضل خان زوی له تاشکند څخه راوغوښت


محمد افضل خان


امیرعبدالرحمن خان

نو ئې له ده سره د يو شمېر مرستو ژمنه و کړه. په دې شرط چي که دی په خارجي سياست کي د انګرېزانو سره مشوره و کړي. امير عبدالرحمن هم د مجبوريت له مخي قبوله کړه. دی ډېر تجربه کار سړی وو، دی پوهېدی چي له قومي خلکو سره څرنګه چلند و کړي او هم له انګرېزانو سره څرنګه په خپله ګټه په نرمي چلند و کړي.

ده و کولای سوای چي د څو ورځو په مدت کي په کابل کي امنيت راولي او بيا د افغانستان نورو ښارو ته متوجه سو. پدې ترتيب د افغان او انګليس دوهمه جګړه پای ته و رسېده.

امير عبدالرحمن په ډېر لږ وخت کي په هيواد کي خپل مخالفان يا له منځه يوړل، يا ئې بنديان او يا ئې فرار کړل. انګرېزانو هم له ده سره مرستي کولې. په ۱۸۸۰ م کال کي ئې پنځه لکه روپۍ، څو سوه توپونه او څو زره توپکان امير ته ور کړل او هر کال به ئې ۱۸۰۰۰ پونډه مرسته ور سره کوله.

ده ډېر ژر ټوله ښورښيان لکه: د غزني غلجيان او د منځني افغانستان هزاره ګان د ځان تابع کړل. د سپاه سالار جنرال غلام حيدر خان چرخي په واسطه ئې د هيواد ټولي هغه برخي چي د افغاني دولت له لاسه وتلي وې بيرته په لاس راوړلې. په نورستان کي ئې د اسلام دين خپور کړ او هغه ځای ئې د نورستان په نامه و باله.

امير په هيواد کي د جاسوسۍ دايره جوړه او قوي کړه. تکړه قاضيان ئې مقرر کړل. د پوستې دفترونه ئې خلاص کړل. شرعي محکمې ئې له سره خلاصي کړلې. د کابل په شاهي مدرسه کي ئې ديني عالمان مقرر کړل. چاپخانه ئې بيا خلاصه کړه او په کابل کي ئې د توپک جوړولو فابريکه په کار واچوله. د ماليې دفترونه ئې خلاص کړل او د لارو غله ئې له منځه يوړل.

د خارجي سياست په برخه کي ئې په نرمي ګام اخيستی. په ۱۸۸۵ م کال کي تزاري روسيې

پر شمالي پنجده (په ترکمنستان کي) حمله وکړه او هغه ئې و نیوله. که څه هم انګرېزانو باید پدې اړه له امیر سره مرسته کړې وای، خو و ئې نه کړه.

امیر عبدالرحمن خان یوه لویه غلطي چي کړېده هغه د ډیورنډ معاهده ده چي بېله د ملت د نمایندګانو له خبرتیا ئې په خپل سر امضا کړه. پدې معاهده کي افغانستان په شرقي او جنوبي سیمو کي ډیري مځکي له لاسه ور کړلې (۱۸۹۳ م). امیر عبدالرحمن خان په ۱۹۰۱ م کال کي په کابل کي مړ سو او پر ځای ئې د ده زوی سردار حبیب‌الله خان پاچا سو.

**پوښتني:**

۱ـ د امیر عبدالرحمن خان رول د افغان او انګرېز د دوهمي جګړې په ختمېدو کي څه وو؟
۲ـ امیر عبدالرحمن خان له خپلو مخالفانو سره څه چلند و کړ؟
۳ـ د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهۍ مهم کارونه کوم ول؟
۴ـ امیر د خارجي سیاست په برخه کي څرنګه چلند درلود؟
۵ـ د امیر عبدالرحمن خان تر ټولو لویه غلطي څه شی او په کوم کال کي وه؟

## د امیر حبیب‌الله خان پاچاهي

(۱۲۸۰ـ۱۲۹۷) هـ ل (۱۹۰۱ ـ ۱۹۱۹ م)


امیر حبیب‌الله خان

امیر حبیب‌الله خان د امیر عبدالرحمن خان زوی وو. دی په ۱۹۰۱ م کال کي پاچا سو. ده ته د پلار ارام هیواد ور پاته سو. د هیواد خلک له امیر عبدالرحمن څخه ډېر په ډار کي ول. حتی د ده تر مرګ وروسته خلکو تر ډېر وخته باور نه کاوه چي امیر مړ دئ.



دا چي امير حبيب‌الله خان عصري زده کړې لرلې و ئې غوښتل چي په هيواد کي تعليم او تمدن منځ ته راسي ، هغه وو چي د حبيبيې لېسه او شاهي مدرسه ئې جوړې کړلې او حربي ښوونځی هم د ده له کارونو څخه دي.


محمود طرزي

يو اخبار ئې د سراج‌الاخبار په نامه را و ايست چي مسئول مدير ئې محمد بيګ طرزی وو. محمود طرزي د لوړو زده کړو څښتن وو.

حبيب الله خان په جبل سراج کي د برېښنا فابريکه جوړه کړه.

د امير حبيب‌الله خان د پاچاهۍ په دوره کي لومړۍ نړيواله جګړه پيل سوه. د جرمني او ترکيې د حکومتونو له خوا د امير څخه و غوښتل سوه چي پدې جګړه کي د انګرېزانو پر ضد د دوی سره ملګری سي. خو امير د دوی نمايندګان ښه و نازول او هغو ته يې خپله بې طرفي و ښودله.

دی هم د امير عبدالرحمن خان په شان د انګرېزانو د ګټو ساتونکی وو او د انګرېزانو له خوا حمايه کېدی. دا وخت په هيواد کي له خلکو سره مترقي فکرونه (مشروطيت غوښتنه) پيدا سوي ول او نه ئې غوښتل چي نور د انګرېزانو تر حمايې لاندي ژوند و کړي. دوی په افغانستان کي د دا ډول حکومت سره کوم چي امير حبيب‌الله خان ئې په سر کي ناست وو مخالفت درلود، خو امير غوښتل چي د ترقۍ دغه فکرونه په زور او زياتي د خلکو له مغزو څخه و باسي. هغه وو چي امير حبيب‌الله خان په ۱۹۱۹م کال کي د خلکو له خوا په لغمان کي د خيمو په يوه کمپ کي په توپنچه و ويشتل سو او ځای پر ځای مړ سو. د امير تر مرګ وروسته د ده ورور سردار نصرالله خان په جلال‌اباد کي ځان پاچا کړ، خو د هيواد ازادي غوښتونکو د هغه پاچاهي و نه منله او پر ځای ئې د امير حبيب‌الله خان زوی امان‌الله خان پاچا کړ.

**پوښتني:**

۱ـ امير حبيب‌الله خان د تعليم او تمدن په برخه کي څه و کړه؟
۲ـ د لومړي نړۍ وال جنګ په وخت کي حبيب‌الله خان څه رول و لوباوه؟
۳ـ ولي خلکو د حبيب‌الله خان حکومت نه خوښاوه؟

# د امان الله خان پاچاهي

(۱۲۹۷ـ۱۳۰۷) هـ ل (۱۹۱۹ ـ ۱۹۲۹) م



امان الله خان د امیر حبیب الله خان زوی وو . دی د پلار تر مرګ وروسته د ۱۹۱۹ م کال د مارچ د میاشتي په لومړی نېټه پاچا سو . کله چي امیر حبیب الله خان ووژل سو نو ورور ئي سردار نصرالله خان د ځان لپاره په جلال اباد کي پاچاهي اعلان کړه او انګرېزانو ته ئي د خپل ورور په شان د ښو روابطو اطمنان ور کړ . د ده پدي کار مشروطیت غوښتونکي چي یوه ډله ترقي غوښتونکي ول ډېر خواشیني سول. هغه وو چي د ده پر ځای ئي امان الله خان پاچا کړ



سردار نصرالله خان

امان الله خان د کابل په عیدګاه کي ټول عسکر ، مامورین او خلک راغونډ کړل. لومړی ئي خلک د پلار د مړیني له پېښي څخه خبر کړل او بیا ئي د کابل په عیدګا کي خپله پاچاهي اعلان کړه .



د کابل عیدګا

امان الله خان لومړی د خپل پلار د وخت بیرغ په لږ تغییر سره خوښ کړ خو وروسته ئي تور سور او زرغون بیرغ منځته را ووړ .





امان الله خان پداسي حال کي چي عسکري درشي ئي اغوستي وه خلکو ته داسي بیانیه ورکړه :



- اې زما ګران ملته! زه به دغه عسکري درشي له ځان څخه و نه باسم څو د هیواد مور ته مي د ازادۍ کالي نه وي ور په تن کړي.
- زه به دغه توره تیکي ته دننه نه کړم څو د خپل ګران ملت د حقوقو تېري کوونکي مي پر ځای نه دي کښېنولي.
- اې زما ګران ملته او سر ښندونکو عسکرو! راورئ چي خپله اخري هستي د خپل هیواد د ساتني لپاره، راسئ چي خپل د ننګه ډک سرونه مو د خپل هیواد د خلاصون لپاره قربان کړو".

دا ئې و ویل او د افغانستان بشپړه ازادي ئې اعلان کړه. د ده د پاچاهۍ له پیل سره د ده د پلار او نیکه د انګرېزانو د پلوي سیاست پای ته و رسېد او نوموړي د افغانستان پوره خپلواکي اعلان کړه.

د ۱۹۱۹ عیسوي کال د می پر پنځمه نېټه ئې د انګریزانو پر پوستو په درو جبهو کي حملې وکړلې چي دغه نو د افغان او انګریزانو دریېم جنګ دئ.

د جنګ د ډېر شدت په نتیجه کي دواړو خواوو سوله سره وکړه.

امان الله خان د خپل نیکه امیر عبدا لرحمن خان د سیاست په خلاف د خپل شمالي ګاونډي (روسیې) دوستۍ ته لاس واچاوه. په هیواد کي ئې ډېر اجتماعي او سیاسي اصلاحات پیل کړل، چي له یوې خوا د شوروي سره دوستي او له بلې خوا څخه د امان الله خان دغه ژر اصلاحات، اجتماعي پر مخ تګونه او د انګرېزانو پروپاګنده سبب سوه چي خلک د ده په مخ کي و درېدل او ښورښونه ئې وکړل. هغه وو چي د کابل چاري حبیب الله کلکاني ته چي د سقاو د زوی په نامه مشهور او په هند کي بندي وو و رسېدلې.

حبیب الله پدغه وخت کي تر خپل وخت له مخه له بنده را خلاص سو. دا چي په هیواد کي د امان الله خان په مخ کي د انګریزانو د لاس وهنو په سبب نا ارامي راغله او امان الله خان نه غوښته چي انسانان دي و وژل سي نو ئې دغه څو جملې پر یوه سپینه پاڼه لیکلي وې:

> "د هیواد خیر په دې کي دئ چي باید له کار څخه لاس واخلم. ځکه ټولي ویني تویوني او انقلابونه چي په هیواد کي دي زما سره د برخلافۍ په سبب دي"

امان‌الله خان پسله لسو کالو پاچاهۍ څخه د ۱۹۲۹ عیسوي کال د جنوري په میاشت کي د کندهار له لاري له افغانستان څخه ووت . ایټالي ته ئې ځان و رساوه او د ژوند تر اخره هلته پاته سو . کله چي وفات سو جنازه ئې د الوتکي په واسطه افغانستان ته راوړه سوه او په جلال اباد کي ښخ سو.



د امان‌الله خان قبر په جلال اباد کي

پوښتني :

۱ ـ د حبیب‌الله خان د مرګ په وخت کي د مخه تر دي چي امان الله خان پاچا سي څه پېښه سوه ؟

۲ ـ امان‌الله خان چي د کابل په عیدګاه کي د خلکو په مخ کي د خپلي پاچاهۍ اعلان و کړ کومي جملې ئې و ویلي ؟

۳ ـ امان‌الله خان څرنګه او څه وخت د افغانستان ازادي اعلان کړه ؟

۴ ـ څه فکر کوی چي ولي امان‌الله خان ناکامه سو او هیواد ئې پرېښود ؟

۵ ـ امان‌الله خان د هیواد د پرېښودو په وخت کي څه و کړه ؟

۶ ـ امان‌الله خان د خپلي پاچاهۍ په وخت کي کوم کارونه و کړل ؟

۷ ـ ایا ویلای سئ چي د امان‌الله خان د پاچاهۍ د له منځه تلو سبب څه وو ؟

# حبیب الله کلکانی

۱۹۲۹ م دجنوري تر اوکتوبر

حبیب الله چي د سقاو په زوی مشهور وو د ډیورنډ د خط په هغه بله خوا کي د ۱۱ میاشتو په قید بندي وو . کله چي د امان الله خان په خلاف ښورښونه پیل سول ناڅاپه حبیب الله کلکانی له بند څخه را خلاص سو او د ښورښیانو سره یو ځای سو .

کله چي امان الله خان د ۱۹۲۹ م کال د جنوري په ۱۴ نېټه له کابل څخه د خپلي کورنۍ له غړو او یو شمېر نورو کسانو سره په موټرکي رهي سو په کابل کي ئې په خپله امضا داسي یوه پاڼه پرې ایښې وه چي لیکلي ئې ول:

"د هیواد خیر پدې کي دئ چي باید له کار څخه لاس واخلم ، ځکه ټولي ویني تویوني او انقلابونه چي په هیواد کي دي زما سره د برخلافۍ په سبب دي".


عنایت الله خان

او د دغي استعفی تر څنګ ئې د سلطنت چاري خپل ورور سردار عنایت الله ته پرې ایښې وې .

سر دار عنایت الله خان فقط ۳ ورځي پاچا وو . ده یو هیئت حبیب الله کلکاني ته ور واستاوه چي د امان الله خان د استعفی خبر ور کړي او نور جنګ بس کړي .

د جنوري پر ۱۷ نېټه حبیب الله کلکانی کابل ته ور ننوتی او د عسکرو په واسطه ئې د ټولو سفارتونو امنیت ټینګ کړ . وزیران ئې و تاکل او نور مامورین ئې د دولت چوکیو ته برابر کړل .


حبیب الله کلکانی

حبیب الله د امان الله خان قوانین له منځه یوړل او پر ځای ئې نوي قوانین منځ ته راوړل . څه موده وروسته د ده پر ضد ښورښونه پیل سول . هغه وو چي خلکو له نادر خان څخه چي یو غښتلی سپه سالار وو او په فرانسه کي ئې ژوند کاوه غوښتنه و کړه چي د هیواد چاري په لاس کي واخلي . نادر خان هم و منله ، د پکتیا له لاري هیواد ته ور ننوتی او د افغانستان چاري ئې په لاس کي واخیستې .

**پوښتني :**

۱ ـ حبیب‌الله کلکانی ولي تر خپل وخت د مخه له بنده را خلاص سو؟
۲ ـ سردار عنایت‌الله خان څو ورځي پاچا وو او څرنګه ئي پاچهي پرېښوده ؟
۳ ـ د حبیب‌الله کلکاني د پاچاهی مهم کارونه کوم وه ؟
۴ ـ کله چي د حبیب‌الله کلکاني په مخ کي ښورښونه پیدا سول نو خلکو څه و کړه ؟

# د اعلیحصرت نادر خان پاچاهي

(۱۳۰۸ـ۱۳۱۲) هـ (۱۹۲۹ـ۱۹۳۳) م



محمد نادر خان

اعلیحضرت محمد نادر شاه په ۱۲۶۲ هـ ل کال د حمل پر ۲۱ یا د ۱۸۸۳ م کال د اپریل پر ۹ زېږېدلی دئ. د هغي پوهي له مخي چي په عسکري چارو کي ئي درلوده د وخت د پاچا له خوا د دفاع د وزیر په توګه و ټاکل سو.

د امیر حبیب‌الله خان تر مړیني وروسته د پاچا امان الله خان په دربار کي هم د ده عزت کېدئ. د افغان او انګریز په درېیمه جګړه کي ئي هم ګډون درلود او خپله دنده ئي په ښه شان سر ته و رسوله.



په ۱۳۰۳ هـ ل کال کي په فرانسه کي د افغانستان د سفیر په توګه و ټاکل سو. په ۱۳۰۵ هـ ل کال کي ئي د سفارت څخه استعفی و کړه او هلته پاته سو.

کله چي پاچا امان‌الله ته د نا ارامۍ اور بل سو او حبیب‌الله کلکاني ته د هیواد چاري و رسېدلي نو نادر خان هیواد ته راغی، لښکر ئي برابر کړ. هغه وو چي د ۱۳۰۸ هـ ل کال د میزان پر ۱۶ نېټه د نادر خان عسکرو د ده د ورور شاه ولي خان په ملګرتیا کابل و نیوی. د میزان پر ۲۳ نېټه ئي حبیب‌الله له منځه یووړ او دی د هیواد د پاچا په توګه و منل سو.

اعلیحضرت محمد نادر خان پداسي حال کي چي د نجات د لېسې فارغانو ته ئي شهادتنامي



ور کولې د يوه زده کوونکي له خوا چې عبدالخالق نومېدی په توپنچه و ويشتل سو او شهيد سو، ۱۳۱۲ هـ ل د عقرب ۱۶ نېټه. تر ده وروسته ئې زوی اعليحضرت محمد ظاهر پاچا سو.

**پوښتني:**

۱ ـ نادر خان په کومو چارو کې مهارت درلود او د مخه تر دې چې پاچا سي کوم کارونه ئې کړې وه؟

۲ ـ نادر خان ځرنګه و وژل سو؟

# اعليحضرت محمد ظاهر خان

(۱۳۱۲ ـ ۱۳۵۲) هـ ل (۱۹۳۳ـ ۱۹۷۳) م



محمد ظاهرخان

اعليحضرت محمد ظاهر شاه د اعليحضرت محمد نادرخان زوی دئ چې په ۱۲۹۳ هـ ل ۱۹۱۴ م کال په کابل کې زېږېدلی دئ. د کابل د حبيبيې او استقلال په لېسو کې ئې زده کړې و کړې. بيا له پلار سره فرانسې ته ولاړ او هلته ئې په زده کړو پيل و کړ.

په ۱۳۰۹ هـ ل کال کې بېرته له فرانسې څخه هيواد ته راغی او په عسکري ښانګه کې ئې خپلو زده کړو ته دوام ور کړ.





يو ځل ئې د دفاع د وزارت د وکيل او بيا ئې د پوهنې د وزارت د وکيل په توګه کار کړی دئ.

د پلار تر مرګي وروسته په ۱۳۱۲ هـ ل کال کې پاچا سو او د ۱۳۵۲ هـ ل کال د سرطان تر ۲۵ نېټې پوري د افغانستان پاچا وو.

ځرنګه چې ظاهر خان د پاچهۍ تجربه نه درلوده نو زياتره چاري د ده د تره محمد هاشم خان له خوا چې د ده د حکومت صدر اعظم وو سرته رسېدلې. سردار محمد

هاشم خان له ۱۹۳۳م کال څخه تر ۱۹۴۶م پوري صدراعظم وو. تر ده وروسته ئې د ده ورور شاه محمود خان صدراعظم سو ۱۹۴۶ ـ ۱۹۵۳م.


محمد هاشم خان

تر دوهم نړيوال جنګ وروسته افغانستان د لويو پروژو په منځ ته راوړلو پيل و کړ. د هلمند او ارغنداو د بندونو جوړول د امريکا د متحده ايالاتو له تخنيکي او اقتصادي همکاريو څخه دي.

په ۱۹۵۳م کال کي سردار محمد داود صدراعظم سو. د ده په وخت کي د اقتصادي پر مختيا قرارداد د جرمني، جاپان او ايټاليې سره امضا سو. دا درې هيوادونه د نړۍ د دوهمي جګړې ملګري ول. دا ځکه چي افغانستان د انګرېزانو سره په هغو وختونو کي ښه دوستي نه لرله.

د دوهمي نړۍوالي جګړې په پيل کي لا محمد هاشم خان د هيواد بې طرفي اعلان کړه چي دا کار د افغانستان په ګټه وو. دغه د بې طرفۍ سياست ظاهر خان تر اخره پوري و ساتئ.

په ۱۹۴۷م کال کي هند د انګرېزانو څخه ازادي واخيسته. د دغي ازادۍ په نتيجه کي هند د خپلي خاوري يوه برخه له لاسه ورکړه. يوه برخه هغه د هند خاوره او يوه برخه چي انګرېزانو پخوا د افغانستان له خاوري څخه ګرځولي وه د يوه نوي هيواد (پاکستان) منځ ته راتلو سبب سوه.

کله چي داود خان صدراعظم سو نو ئې له پاکستان څخه د افغانستان د هغو خاورو د ازادولو غوښتنه وکړه کوم چي د ډيورنډ د خط په نتيجه کي ئې له لاسه ورکړې وې. دا زياتره هغه برخي وې چي پښتانه پکښې اوسېدل او د پښتونستان په نامه ئې يادول. دې خبري د افغانستان او پاکستان تر منځ جګړې او مشکلات منځ ته راوستل.

ظاهر خان په ۱۳۴۳هـ ل کال کي د افغانستان نوی اساسي قانون منځ ته راوړ. د دغه اساسي قانون له مخي سياسي فعاليتونه په هيواد کي ازاد سوه چي په نتيجه کي ئې يو زيات شمېر سياسي ګوندونه منځ ته راغلل. خلکو تر يوې اندازې پوري د خبرو او ليکنو ازادي پيدا کړه. تر دغه وروسته په هيواد کي د فارسي ژبي نوم په دري واوښت.

په ۱۳۵۲هـ ل کال د سرطان پر ۲۶ نېټه سردار محمد داود د يوې کودتا په نتيجه کي د افغانستان لومړی جمهوريت اعلان کړ. ظاهر خان چي د داود خان د کودتا په وخت کي په

ایټالیا کې وو د ۱۳۵۲ کال د اسد پر ۲۱ نېټه ئې داود خان ته یو لیک را و لېږی چې په هغه کې ئې نوي رژیم ته بیعت ور کړی وو .

**تـــمرین :**

۱ ـ کله چې ظاهر خان پاچا سو ولي ئې د حکومت چاري د ده تره (اکا) محمد هاشم خان سر ته رسولې ؟
۲ ـ د ظاهر خان د پاچاهۍ مهم کارونه څه شی ول ؟
۳ ـ ظاهر خان تر پاچاهۍ د مخه کوم کارونه کړي ول ؟
۴ ـ د ظاهر خان پاچاهي څرنګه له منځه ولاړه ؟

## محمد داود خان

۱۳۵۲ د سرطان ۲۶ څخه د ۱۳۵۷ د ثور تر ۷ پوري



محمد داود خان

داود خان د سردار محمد عزیز خان زوی او د اعلیحضرت محمد ظاهرخان د تره زوی دئ . په ۱۲۸۷ هجري لمریز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ . لومړی ئې خپلي زده کړي د حبیبیې په لېسه کې کړي دي او بیا د لوړو زده کړو لپاره فرانسې ته تللی دئ .

د نادر خان په وخت کې د یو څه مودې لپاره د خارجه چارو د وزیر په توګه و ټاکل سو . په ۱۳۱۴ هـ ل کال کې د کندهار د والي او عسکري قواوو د مشر په توګه و ټاکل سو . په ۱۳۲۶ هـ ل کال کې د حربیې د وزیر په توګه او بیا په ۱۳۳۲ هـ ل کال کې د صدراعظم په توګه و ټاکل سو .



په ۱۳۴۱ کال کې ئې د صدراعظمۍ څخه استعفا وکړه .

د ۱۳۵۲ هـ ل کال د سرطان پر ۲۶ نېټه ئې د یوې کودتا په نتیجه کې لومړی جمهوریت اعلان کړ . داود خان چې د انقلاب د رهبر په نامه یادېدی د خپلي جمهوري دورې د دولت د ریس،

صدراعظم ، خارجه چارو د وزیر ، د ملي دفاع د وزیر په توګه کار کاوه.



محمد هاشم میوندوال

په لومړي سر کي ئې د پرچم د ګوند یو شمېر غړو ته په خپل حکومت کي ځای ورکړ. پدغه وخت کي محمد هاشم میوندوال چي د مساوات د ګوند مشر او د ظاهر خان په پاچاهي کي پخوانی صدر اعظم وو بندي کړل سو او له هغه ځای څخه ئې مړی د ځان وژني په نامه منځ را و ایستی.

د ده په دغه دوره کي لومړی ۷ کلن پر مختیایي پلان جوړ او تر کار لاندي و نیول سو. د مځکو د اصلاحاتو قانون منځ ته راغی او د هغه په نتیجه کي یوې کورنۍ ته تر ۲۰۰ جریبه پوري د کرهني مځکه ور پرېښودل کېده او نوره ئې د هیواد بې مځکو او خوارانو بزګرو ته ور کول کېده. د دې کار په سر ته رسېدو دی بریالی نه سو. داود خان د مترقي مالیاتو سستیم منځ ته راووست. هغه دا وو چي په هره اندازه به عایدات او ګټه ډېرېده په هغه اندازه به ئې مالیات پورته تله. د یوه نوي اساسي قانون لپاره یو کمیسون جوړ سو.

د داود خان په وخت کي د پخوا په شان د هیواد په عسکري چارو کي د ګاونډي هیواد شوروي اتحاد مشاورینو کار کاوه. دا ځکه چي افغانستان له ډېر وخت راهیسي د دوو لویو قوتونو تر منځ پروت وو لکه: شوروي اتحاد او لوېدیز هیوادونه( په سر کي ئې امریکا). د یوې خوا شورویانو نه غوښتل چي د لوېدیزو هیوادونو له جملې څخه کوم هیواد پدې منطقه کي فعالیت و لري او له بلي خوا ئې دغه مشاورین په ډېر لږ مصرف دلته په کار بوخت وه.

داود خان څه موده وروسته یو ګوند د ملي غورځنګ په نامه منځ ته راوړ او یو ګونده سیاست ئې اعلان کړ چي بېله دغه ګونده بل کوم ګوند منځ ته نه سوای راتلای. د دې معنی دا وه چي ډیموکراسي نه وه.

د ده د جمهوریت په دوره کي یو شمېر سیاسي نا ارامۍ منځ ته راغلې چي د هغو په نتیجه کي داود خان نور محمد ترکي، حفیظ الله امین، ببرک کارمل او د خلق د ګوند یو شمېر نور سیاسي کسان بندیان کړل. د دغه کار په نتیجه کي د هغو د ملګرو له خوا یوه کودتا پیل سوه. داود خان د خپلي کورنۍ د غړو سره په ۱۳۵۷ هـ ل کال کي د ثور پر ۷ نېټه و وژل سو. د ده او د ده د کورنۍ د غړو مړي د خلقي حکومت له خوا په یوه نا معلوم ځای کي ښخ سول.

د خلق ديموکراتيک حکومت منځ ته راغئ چي نور محمد ترکی ئې مشر وو .

په ۲۰۱۰ م کال کي د حامد کرزي د حکومت په وخت کي د داود خان او د هغه د کورنۍ د غړو مړي و موندل سول او په ښو مراسمو خاورو ته و سپارل سوه .

**پوښتني :**

۱ ـ داود خان قدرت ته تر رسېدو له مخه کوم کارونه کړي ول ؟
۲ ـ داود خان څرنګه لومړی جمهوریت منځ ته را ووست ؟
۳ ـ د داود خان د دورې په لومړي سر کي پرچميانو څه رول درلود او ولي څه موده وروسته له حکومت ځخه و ایستل سول ؟
۴ ـ د داود خان د دورې مهم کارونه کوم ول ؟
۵ ـ داود خان د سیاست په برخه کي څه تغییرات منځ ته راوستل ؟
۶ ـ د داود خان دوره څرنګه پای ته و رسېده ؟